دمیخانهٔ شهادت است ملی ساغر نخستین
نابرمردم گرگه یاکشی پیاپی برمن او کم تشاپد که شد

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

نمبرمسلسل (١١٦٢) سال نزدهم - شمارهٔ (٥٩) ، یکشنبه (٣) سرطان ١٣٧٥ هـ ش - (٧) صفرالمظفر ١٤١٧ هـ ،ق - (٢٣) جون ١٩٩٦م

دطالبانو له خوا دکابل ښارداستوګنی پرسیمو باندی دراکټی برید په ترڅ کی ؛

(٢٤) تنه کابل ښاریان مړه او (٤٠) تنه سخت ټپیان شول

کابل - دچنګاښ ٣ مه :

پرون یوځل بیا دکابل پرښارباندي بیوه راکټي حمله ترسره شوه .

دکابل له ښارڅخه شهادت ته په رارسیدلو وروستیو رپوټونو کي ویل کیږي چي : پرون له غرمي مخکي دکابل ښارداستوګني پرسیموباندي دطالبانوځوانه دوه ځلي راکټي حملي وشوي . ددغو راکټي بریدونو په نتیجه کي ٢٤ تنه کابل ښاریان شهیدان شوي او ٤٠ تنه سورسخت ټپیان شوي دي .

رپوټونه زیاتوي چي : دویشتل شویوتوغندیوله جملي څخه یوتوغندي دداراالامان په سیمه کي دیوسوټو په یوه تم ځاي کي لګیدلي چي ٧ تنه ښاریان ئي وژلي اوګڼ شمیر نورئي ټپیان کړي دي. دبیلي جلاحملي په ترڅ کي دوه توغندي دمحمود«طرزي» په لیسه لګیدلي دي چي ٧ تنه زده کوونکي ئي وژلي اونور ٤٠ تنه به کي سخت ټپیان شوي دي په ټپي شویو کسانوکي دځلورو تنو روغتیائي حالت خراب ښودل شوي دي

دطالبانو له خوانه دپرونیو راکټي حملو ټپیان په دریه کارته کي دسره صلیب روغتون ته وړل شوي اودعلاج لاندي دي

ددفاع دوزارت دویاند دپرونیو راکټي حملو ملامتي پرطالبانو اچولي ده اودغه وله ئي دراکټي حملو عامل بللي ده .

دکابل پرښارباندي دتوغندیو پرونئ برید په داسي وخت کي شوي دي چي دافغانستان دلانجي د سیاسي حل لپاره پوره هڅي روانې دي، پنځه ورځي وړاندي طالبانو اودولت دواړو په هیوادکي دعمومي واکسپتاسیون دعملي کولو پخاطر دپنځو ورځو پسه اوربند سره موافقه راغلي وه . دغه تاکل شوي موده دتیري جمعي، په ورځ پاي ته رسیدلي ده اودپاي ته رسیدو سره سم طالبانو دکابل پرښارباندي خپلي راکټي حملي پیل کړي

الهي لاربنوونه

ماښام هغوي پسه ژړا ژړګولا خپل پلارته راغلل اوويي ويل : « پلارجانه موږ دځغلیدو پسه مسابقه بوخت وو اویوسف موږدخپلواسبابوترڅنګ ته پریښی و چي پدي ترڅ کي لیوه راغي هغه ئي خوړ. ته به زموږ پسه خبره باوروونه کړې که موږرښتیني هم واوسو» اوهغوي دیوسف (ع) کمیس ددروغویه وینولړلي له ځانه سره راوړي وو . ددي په اوریدلو دهغو پلار وویل :« بلکي ستاسي نفس ستاسي له پاره یولوي کارآسانه کړ، نبه توصبریه وکرم اوپه ښه شان به یې دکړم، کوم څه چي تاسي غوټه کوي پرهغې باندي له همغه الله نه مرسته غوښتل کیداي شي .»
(یوسف - ١٦ - ١٨)

کابل ښارته دورور «حکمتیار» تګ به ان شاءالله

دسولی دستر حرکت بختور آغازوی

دحزب امیر به دچارشنبی پـه ورځ دنوی اسلامی انتقالی حکومت دصدراعظم په توګه لوړه کوی

دنوی حکومت لومړی ترجیح به دجګړی پای ، دټولو سره تفاهم اودمنتخب حکومت لـه پـاره لاره اوارول وی

کابل ښاریانو دامنیت اودفاع داطمینانی کولو اوهغوی ته دارتیا وړاولیه موادو دبرابرولو له پاره به عاجل ګامونه پورته کیږی

صدراعظم به دکار ترشروع کولو څوورځی وروسته دسولی دکاروان سره دهیواد مرکزی اوشمالی صفحاتو ته سفرکوی

لـو درنـو مـشرانـو تـه کـابـل تـه دتـلـو بـلـنـه ورکـرلـه شـوی ده

پېښور - دچنګاښ ٢ مه :

دحزب یوه مسئول پرون «شهادت» ته دیوتیلفوني تماس په ترڅ کي وویل چي کابل ښارته به د وروړ «حکمتیار» تګ ان شاء الله زموږ په جنګ . سرځولي هیوادکي دسرتاسري سولي دټینګیدو دستر حرکت پختورآغازوي . نوموړي څرګنده کړه چي دحـزب امـیر وروړ «حکمتیار» به دچنګاښ په ٦ مه دیوه لوي کاروان په بدرګه کابل ښارته ننوځي اوهلته به دنوي اسلامي انتقالي حکومت
(٤)مخ

عنقریب کنفرانس «صلح» درکابل تشکیل می شود

کابل - ٣ سرطان :

علاوالدین «بروجردي» معاون آسیاواقیانوسیه دروزارت امورخارجه ایران هم اکنون درافغانستان بسرمي برد تاعکس العمل و نظریات گروه هاي مختلف افغان را پیرامون تدویرکنفرانس صلح دولت مورد ارزیابي قراردهد .

رادیرکابل بـه نقل ازسیدمحمدعلي جاوید معاون صدارت گزارش مي دهد که عنقریب کنفرانسي ازطرف دولت براي خاتمه جنگ وبرقراري صلـح سرتاسري
صفحه (٤)

براساس گزارش سازمان عفو بین الملل :

کشورهای خارجی وجامعه بین المللی ، مسؤل نقض حقوق بشر در افغانستان اند

ژنیو - ٣ سرطان :

سازمان عفو بین المللي گزارش سالانه خودرا درمورد نقض وتخطي موازین حقوق بشر دربیش از (١٤٥) کشورجهان بشمول افغانستان منتشر نموده است .

سازمان عفو بین المللي طي گزارش سالانه خویش راجع به چگونگي پامالي حقوق بشر درافغانستان اعلان داشته که قدرتهاي بزرگ وممالك همجوار افغانستان
صفحه (٤)

هند در بازسازی افغانستان کمک می کند

کابل - ٣ سرطان :

دهلي جدید همکاري همه جانبه خودرا براي اعمار مجدد افغانستان اعلان داشته است.

قرارگزارش «رویتر» یك مقام عالي رتبه هند درکابل اعلان نمودکه هند براي ترمیم وفعال ساختن فابریکه و موسسات درافغانستان کمك مي کند .

این مطلب طي دیدار معاون سفارت هند مقیم کابل با برخي ازمالکان گان ومالکان فابریکه هـا وموسسات شخصي
صفحه (٤)

مولوی عبدالرحیم «خنجانی» دستری محکمی درئیس په توګه وټاکل شو

باید طالبان وسله کیردی اودخبرو اترو له لاری دبحران په حل کی مرسته وکړی

خنجانی

کابل - دچنګاښ ٢ مه :

دهیواد نامتو عالم مولوي عبدالرحیم «خنجاني» ددولت دستري محکمي درئیس په توګه وټاکل شو .

له کابل ښارڅخه دشهادت خبریال شهادت ته په یوه مخابروي تماس کي وویل دهیواد نامتو عالم مولوي عبدالرحیم «خنجاني» دیوي لویي غونډي په ترڅ کي ددولت دستري محکمي درئیس په توګه وټاکل شو اودوفاداري لوړه ئي پورته کړه .

منبع وویل داغونډه چي دستري محکمي دسیمنارونو په تالارکي جوړه شوه ددولت د رئیس استادرباني برسیره ګڼ شمیر علماوو او د ستري محکمي دریاست غړویکي برخه واخسته . غونډه دقرآن عظیم الشان دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه پسه پیل کي د ستري محکمي دریاست سرپرست مولوي مراد
(٤)مخ

هفتادهزاردالرازیك دفتر محلی سازمان ملل درکابل سرقت شد

مبلغ (٧٠) هزار دالر ازیك دفتر منطقوي کمشنري عالي سازمان ملل درامور پناهندگان دزدیده شد.

به گزارش آژانس خبري فرانسه «فري پیغزنر» مدیر دفترکمشنري عالي سازمان ملل متحد در امـور پناهندگان گفت دوکارمند محلي ایـن اداره و ١٣ افغان درارتباط به قضیه سرقت یادشده که ماه گذشته صورت گرفته بود، بازداشت شده اند. وي افزود این حادثـه ممکن پروگرام هاي امدادي این سازمان را که قبلاً به علت
صفحه (٤)

پاکستانی اوسعودی مسؤلینو دهلال په مشری دحزب هیئت ته داد ورکړ

مونږ دحزب اوجمعیت روغه دسولی په خوابنه پرمختګ ګڼو

دراتلونکی انتقالی حکومت سره به دخپلو ظروفومطابق مرستی ونه سپمو

اسلام آباد - دچنګاښ ٢ مه :

پرون دحزب اسلامي افغانستان دسیاسي چارو دکمیسیون درئیس انجنیر قطب الدین « هلال » پـه مشري دحزب یوه لوړرتبه هیئات پـه اسلام آباد کي دپاکستان دمهمو اداروله لوړرتبه مسئولینوسره وکتل اوله هغوي څخه ئي وغوښتل چي په افغانستان کي دحزب اوجمعیت ترمنځ داتحاد په بنه کي دسولي دمهمي اوموثري شروع شوي عملیې اودهغي په نتیجه کي درامنځ ته کیدونکي انتقالي حکومت ملاتړوکړي .

دشهادت خبریال لیکي چي : په اسلام آباد کي دحزب ددفتر مسئول
(٤)مخ

مولوی ولاجان «وثیق » له شهادت سره په مرکه کی :

دیوه عالم په توګه له ټولو جهادی مشرانو اومجاهدینو څخه هیله کوم چی دحزب اوجمعیت دترون ترشاودریږی

طـالبـانو ددی تـړون لـه ویـری خپـلو مـشرانـو ته بلنه ورکړه

«حکمتیار»صـاحب پـه خپـلو مرکـو کی پـه څرګنده ویلی چی د دوی اتحاد دبل چا دلـه منځـه وړلـو لـپاره نـه دی

ملامحمدعمر ته دامیرالمومنین لقب ورکول دیره بی بنیاده خبره ده

داچي دلوي خداي په فضل اورحمت دحزب اسلامي اوجمعیت اسلامي ترمنځ دتړون او ورروستي پیغکړي لـه امله دمجاهدینواومجاهدملت په مخ دفتوحاتو اوخوښي دروازه پرانستل شوي نویه موښ لازمه ده چي ددي تړون بوازي دانه چي تائید اوملاتړئي وکړو بلکې باید زموښ ټول هیوادوال ددغه تړون هرکلي اوددي لوي نعمت شکر اداکړي .

داخبري پـه کابل کـي د اطلاعاتو اوفرهنګ دوزارت سرپرست مولوي ولاجان «وثیق» په کابل کي دشهادت له ځانګړي استازي سره دیوي مرکي پـه تـرڅ وکړي .
(٤)مخ

اذری هـا تـظاهرات ضـد امـریکـایی برپـا کردند

باکو- ٣ سرطان :

صدهاتن از محصلان و نمایندگان سازمان هاي سیاسي، اجتماعي وفرهنگي آذربایجان به مظاهرات وراهپیمایي هاي وسیع وگسترده، ضد امریکایي پرداختند.

قرارگزارش خبرگـزاري « توران » مظاهره کنند گان که ازپانزده سـازمـان مختلف سیاسي ، اجتماعي، فـرهنگي وعلمي نماینده گي مي کردند، کـمك هاي امریکا براي منطقه مـورد منازعه نوګورنوقره باغ آذربایجـان را محکوم نمودند.

این تظاهرات کـه درمقابل ساختمان سفارت امریکا در شهر باکو پایتخت آذربایجان براه انداخته شده بود، کمك
صفحه (٤)

بـدون تفاهم میان افغانها حل بحران افغانستان ناممکن است

پالیسی اسلام آباد درقبال افغانستان باید طبق منافع ملی پاکستان باشد

جنرال اسلم بیک

پشاور - ٣ سرطان :

جنرال اسلم بیگ فرمانده سابق قوای زمیني پاکستان گفته است که پالیسي پاکستان درقبال افغانستان باید برمبناد منافع ملي پاکستان استوار گردد.

وي دریك مصاحبه اختصاصي با «نواي وقت» گفته است کـه پالیسي پاکستان درقبال افغانستان بنابردخالت هاي پیهم امریکا بارها دستخوش تغیروتحول
صفحه (٤)

به مناسبت بیست وپنجمین سالگرد شهادت مظلومانهء بنیانگذار نهضت معاصر اسلامی درکشور به یاد «ساربان نور»

اگرطالب دین هستی ، برادرمنی واگر طالب قدرت هستی ، عامل جنگی !

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

کابل ښارتـه د ورور «حکمتیار» ننوتل ، هیلی اواحتمالات ...

د راتلونکي چهارشنبي په ورځ دحزب امیر ورور «حکمتیار» کابل ته ننوځي، په کابل کي به نوي انتقالي حکومت جوړیږي اودهیواد له قضاباوو سره به دبرخورد نوي سیاست وضع کیږي .

دپردیودلاس وهنو، دځینوخپلودغلطیو اوناپوهیو په وجه زموږ دزړنگ هیواد بحران اوستونزي، دومره پیچلي کړي دي، دومره ئي مسایلوته په یوه پسي بله غوټه وراچولي ده، چي گله ، گله یوافغان ورياندي فکرکوي نودمایوسي تروږمي ئي په سترگوراشي، نورهرڅه بربادوگوري، ټولي هیلي ماتي وبولي، ټولي ارادي بي اثره وشمیري ، ټولو«جنگونه» بایللي اوټولي حوصلي بي ځوابه وگڼي .

هغه وینې چي وطن ئي عملاً ټوټه ،ټوټه دي، دپردیوخونړي اووحشتناکي منگولي ئي دملت په ستوني کي خښي دي، دفقر، بي اتفاقي ، بي باوري اوذهني انتشاریوبدمرغه راج بیداد کوي، دخارجیانو زړونه ئي لادهیواد په بده ورځ اوله فاجعوډك سرنوشت نه دي یخ ، لالگیادي خداي (ج) خبرله دي مظلوم اومحروم قوم نه دڅه

شي کسات اخلي اویه کوم غځ کي ئي دعذابونویه لمبوکي کړوي، بي رحمي، بدضمیره، بي شعوري ، غلا، حماقت ، بي کفایتي اولوټماري حاکمیتونه ورځ په ورځ ریښي پیداکوي اودټولني په یوه حاکم ذهنیت اوکلتوربدلیږي . دمایوسیو اوبربادیو په داسي یوه حالت کي زموږ ملت یوبنه خبراوري ، اودسولي په لارکي دیوه لوي قدم دپورته کیدو غږ اوري. دحزب او جمعیت ، اتحاد، ددوي اوددوي دمتحدینو په خوښه دیوه گډانتقالي حکومت جوړول عادي خبره نه ده، دایولوي انکشاف دي، یوستریدلون دي چي کولاي شي زموږ دملت اووطن سرنوشت بدل کړي .

ترکومه چي په حزب اسلامي پوري اړه لري، نوباید ووایوچي دبریي انصافه به وي چي دافغانستان دتیرو تقریباً دوولسیزویه اوږدوکي له اساسي مجاهدانه نقش نه څوك سترگي پټي کړي، موږ دانه وایو چي دحزب په اجرأتوکي به کمزوري نه وي، خوبه دي کي شك کول چي حزب یوداسي مومن باکفایته ،بااستعداده ،ذهین ، زړوراو مستقل مزاجه نظریاتي زعامت لري ، داسي مخلص تعلیم یافته اومجاهد کدرونه لري چي په ریښتیاني معني زموږ دهیواد یوه عظیمه پانگه ده ،واقعیت دادي چي ملتونه په ورځو اوکلونوکي دداسي پانگوخاوندان نه کیږي ، بلکي دپیړیو انتظارئي ددداسي «شتو» خاوندان کوي .

دامنوچي داسلام ددښمنانو پرله پسي هولناکوتوطیو په حزب باندي درانه گوزارونه کړي دي، خو حزب دخپل قیادت دابتکار اوبحرانونو دمقابلي داستعداد اومستعد قوت په وجه دهیواد په قضاباووکي دیوه بنیادي نقش دترسره کولو له «پوتانشل» نه برخمن دي .

موږ په دي پوهیږو چي پردیو لاسونو ، بي شعوره ،ناپوهواووابسته کردارونو زموږ دهیواد کړکیچ څومره ژور کړي، خوبه دي موباوردي چي که دحزب اوجمعیت قیادتونه بي احتیاطي ونکړي ، دیوبل ددرك کولو اوزغملوپه باره کي اشتباه اولنډپاري ونکړي، دانانپخونو بنکارنشي ، داقتدارحرص اونشه ورباندي غالبه نشي، بلکي په دي روحیه کاروکړي چي دیوه دریغره ملت دژغورني باروریه غاړه دي، داسلام اوجهاد دپت اوابرو پیټي وریه اوږودي اودیوه عظیم امت دشوکت اوعظمت دراژوندي کیدو دهیلو تنابونه وريپوري تړلي دي، نوبه هیڅ توگه په دي خبره کي مبالغه نشته چي ان شاء الله کابل ته به دورورو«حکمتیار» ننوتل اودیوه انتقالي حکومت جوړیدل دیوه بختورآغاز لومړي قدم شي .

دابختور آغاز به په گران وطن کي دتعصباتو دسکروټو دخامرشه کولو هڅه وي ، دجگړو داوور دلمبو دوژلوهاندیه وي، دټولو مجاهدینو دپخلاکولو اراده به وي، اوبالاخره دملت له خوښي سره سم دټولو افغانانو لپاره دشرافت، ازادي اوپټ من ژوند دتامینلوضامن اود منتخب حکومت جوړولو عظیم الشان «جهاد» وي .

ددي لوړو اومقدسو ارزوگانو دپوره کیدو په هیله .

به مناسبت بیست وپنجمین سالگرد شهادت مظلومانه بنیانگذار نهضت معاصراسلامی کشور

حامد

نهضت معاصراسلامی افغانستان در آخرین ساعات روز چهارشنبه ۱۳حمل سال ۱۳٤۸هـ ش، دریکی ازصنوف پوهنتون کابل ، تو سط ۱۲ تن از جوانان مؤمن ومتقی رسماً بنیادگذاشته شد. آن ۱۲ تن قبل ازآن تاریخ بصورت مجزا وپراگنده مشغول فعالیت های سیاسی اسلامی بودند کـه از ۱۲ حمل ۱۳٤۸ به بعد بصورت منسجم ، سازمان یافته وتشکیلاتی بنام نهضت « جوانان مسلمان ، وتحت قیادت داهیانه وتحسین برانگیزدانشمند متفکر ومجاهد ، استاد عـبدالرحیم «نیازی» یکی ازمحصلن پوهنتون کابل، وارد مرحله جدید فعالیـت های خویش گردیدند.

استعمارازین نهضت بوحشت افتاده دسـت بکارشـد. ایجـاد موانع واشکالتراشیها که حتی درتضاد کامل باقانون اساسی پادشاه نیز قرارداشت، ضرب وشتم ، تحبیس وشکنجه وتعذیب پیروان این نهضت توسط رژیم مزدور واستبدادی سلطنتی ، نتوانسـت آرزوی استعمارگران بالخصوص استعمارسرخ واستعمار زرد را متحقق سازد .

همین بودکه طرح تصفیه فزیکی استادنیازی رحـمة الله علیه ،توسط استعمار ریخـته شده وجغد طفیلی ظلمتکده دلکشا، خفـاش شب پرست، هندوزاده تشنه بخون ملت مسلمان افغان ،ماموراجرای این طرح گردید.

نیازی (رح) بـر اساس این طرح ودردهلی جدید - پایگاه دیگرروسی درمنطقه - به شهادت رسید وجنازه اش رابه کابل آوردند . امـا ، همانطوریکه حیات پربار این ستاره تابان آسمان پرستاره افغان زمین ، تحقق وتحمیل نقشه های کریملن را درافغانستان ۲۰ سال به تعویق انداخـت »، مرگ غیرمتعارفش نیز « ٤٠ سـال دگر آنهارابه عقب راند » و سر انجام جهان شاهد بودکه انـقـلاب نیازی نه تنها ماشین جنـگی پکـت وارسا را در افغانستان فلج ساخت، بلکه اروپای شرقی رانیز آزادساخت، دیوار برلین رافروریخت ، آلمان هارا مجدداً متحد ساخت و باعـث انهیار امپراطوری شیطانی « اتحـاد جماهیر شوروی سوسیالـستی» گـردید.

بلی! برادرنیازی بروزشنبه ۲۹ جوزای ۱۳۵۰ مطابق ۲۵ ربیع الثانی ۱۳۹۱ هجری قمـری و ۱۹ جون ۱۹۷۱ میلادی دردهلی جدید توسط جاسوسان کی جی بی به قتل رسیده وبه لقاء معبود شتافت . اناالله وانااالیه راجعون

نیازی شهیدشد وبه گفته دانشمندی «افغانان جمال دگری را ازدست دادند ! »
افغانان فرصت یافتندکه آخرین دیدار رابانیازی درحاکمیـت استبدادی ودر تابوت باوی داشته باشند! همانگونه که آخرین دیدار را باعلامه سیدجمال الدین افغان رحمة الله علیه ، نیز درحاکمیت استبدادودرتابوت باوی بعمل آورده بودند .

اما ، ایا تدفین سیدجمال به مفهوم تدفین اندیشه ومرگ راه او بود !هرگز! به همین گونه تدفین نیازی نیز به مفهوم تدفین آرمان ومرگ راه او نبود . اگرچه درهردوبار استعـمار اینگونه پنداشته بود وباهمین امیدجمال ونیازی راکشت البـته بین جمـال ونیازی تفاوتهای چندی نیز وجـود دارد،که اینـدو رادرمواردی ازهم جدامیسازد .

جمال ونیازی هردو« درد » راخوب درك ولمس کرده بودند. « دوای » آنر انیزیافته بودند، اما، طریقه معالجه آنان ازهم فرق داشت .

سیدافغان مخواست درکارمعالجه ،ازیکی ازعوامل عمده « درد » یعنی «دربار» نیز کمك بگیرد - که اشتباهش همین بود - وگاهی براین جنبه تکیه خاصی نیز داشت .

این روش سید افغان راباشکست مواجه ساخت و خـود نیز دراواخر عمرپربارش باین اشتباه جبران ناپذیر پی برده وازان باعبارات « افشاندن بذردرزمینهای باترولم یزرع » تعبیـر کرد .

اما ، نیازی ازاول تاآخردرست رفت وبالطبع بذرش زود وخوب حاصل داد .
جمال را «دوستان نادان» کشتند .
اما نیازی را «دشمنان دانا »!

جمال باحسـرت مـردا چون نه تشکیلات منسجمی ازخـود باقی گذاشته ونه راهنمائیهای مدونی ! واین برای اوتلخ تر ازشوکران عبدالحمید ثانی بود! نیازی بافراغ بال وآرامش ذهنی مرد. چون هـم تشکیلات منسجم ازخود باقی گـذاشت وهم «معالم فی الطریق » ! و ایـن لـذت، مرارت زهرظاهرشاه، KGB را بر او شیرین ساخت .

یاران سیدجمال یا بـه دارالافتاء راضی شدندوهم دسـت آشتی بسوی «فرهنگ غرب» درازکردند یااینکه صوفی شده وبه کنج خانقاه پناه بردند.

اما ، یاران نیازی، نه به صدارت داوود راضی شدند ونه دست آشتی کریملن رافشردند ، بل دست به سلاح برده وخواب وخور را بردژخیمان اوحرام ساختند .

درتشییع جنازه سـید افغان ، هم دوستان ورهروان او(مظلومان)حضور داشتند وهم دشمنان وقـاتـلان اوحضوریافتند واشك تمساح ریختند واین مظلومیت سیدافغان را مضـاعف گردانید!

درتشییع جنازه نیازی، صـرفـاً دوستان ورهروان اوحضورداشـتند و اشك ریختند. در حالیکـه دشمنان اودرقصرهاولانه های خـود باقیماندند وبه سلامتی «دیموکرات ترین پادشاه آسیا » ومارشال صلح رفـیق برژنف جامهای خودرا بالاکردند . واین پیروزی نیازی بود! چه ،نشانه ای بودازارتقای سطح آگاهی افغانان نسبت بـه زمان جمال : وهم دلیلی بودبرصراحت پیام نیازی ووضوح راه او!

دشمن ازتدفین سیدجمال درکابل نمی هراسید، بلکه بـه جهاتی خوشنود نیزگردید. زیـرا خطری ازناحیه آن احساس نمیکرد: بل میتوانست باچاپ مقالاتی ، پس ازترورفزیکی او، اینك به ترور شخصیت آن آزاده مؤمن موفق گردد ، وتقریباً اینگونه هم شد!

اما، دشمن نـیازی ازتدفین اودرکابل هراسید وبا انتقال جسداوبه فاریاب، آرامـش قلبی واطمینان خاطر یافت. چـه موجودیت مزار ومرقداودرکابل زیارتگاهی میشد برای عموم ودرکنار ذکـر فضائل نیازی، ذکرعامل قتل ونام قاتـل اواجتناب ناپذیربود ولاجرم !

انتقال جسد سیدافغان بـه افغان زمین وتدفین اودرکابل تسلی بخش قلوب حزین یـاران ودوستان اوگردید وآبی پاشید برشعله های آتش خشم ودژم آنان!

اما ، انتقال جـسد نیازی به کابل وتدفین اودرفـاریاب ، طوفانی به پاکردقصر وکاخ برانداز که سلطنت رابه مزبله تاریخ انداخت و سلـطان رابه دیاروروم پرتاب کرد.

مرگ سیدجمال دیوان کابل راابقاء کرد ، ولی مرگ نیازی خفاشان کریملن را واداشت تاپالانی بـنام داوود برخر کمونیزم درکابل بپوشانند !

دشمنان جمال ازه بزرگداشت « خاطره» اوسودهابردند .«کنگره » هاداثرکردند وباخاطر آسوده به بسترغنودند.

اما، دشمنان نیازی « خانه تکانیهای » درباری راعاجزترازمقابله باپیروان نیازی یافته ،دچارکابوسها گـردیده ودریك لحظه مستی ولایعقلی دستور کودتای

صفحه (٤)

انصاف

میوند

دپاکستان په عمران خان پوري داخه مرده ددي هیوادډراتلونکي یاهم متوقع صدراعظم نوم ښتي دي موږ نه پوهیږوچي دمتوقع صدراعظم مکلفیت اوصلاحیت به څـه وي . ترکومه چي ټولوته معلومه ده هغه داده چي عمران خان ځانته دمتوقع صدراعظم په نوم دیارانو دوستانو پـه لټه کي دي، ده تراوسه دمارشـال اصغرخان اولطیف افریدي حمایت اویاهم خواخوږي ترلاسه کري چي دغو دواروته یوه پاکستاني لیکوال دسیاسي یتیمانونوم ورکړیدي .

خوترکومه چي پـه عوامي اوولسي سطحه دمتوقـع صدراعظم ترکمپاین پوري اړه لري هغه دمتوقع صدراعظم هغه بي رحمه اوکلکه څپیړه ده چي په لاهورکي یې دیوه ژورنالست مخ تك شین کړ.

پوښتنه داده چي متوقع صدراعظم ولي دخپلي څپیړي یـا هم گوزارلپاره ژورنالست غوره کړ . تردي بله بدبختي نوره کومه ده چي دمتوقع صدراعظم گوزار یاڅپیړي ته هم دیوه ژورنالست پچه وخیژي. زه دانه وایم چي دمتوقع صدراعظم دغه گوزار گني دحکومتونو له خوا له صحافت نـه دویري یاهم ضدڅرگندوي گوي پدي هم غاړه نه بندوم چي دادحکومتونوله خـوا دخپل مخالف یادښمن نشاندهي یا پـه گوته کول دي .

داهم سري نشي ویلي چي داگوزار دسرکار له خواله صحافت سره دختمي مقابلي راتلونکي وگڼل شي که څه هم وایي چي بهترینه دفاع حمله ده .

داگوزارددي غمازي هم کوي چي دژورنالستانو او صحافي براداري څومره ضربه پذیره ده .

دیوه ژورنالست د قلم په وړاندي چي دیوه هیواد متوقع صدراعظم په نفس نفیس دسوك څپیړي مظاهره کوي داگني دصحافتي خدمتونو اوصحافت عبرتناك انجام ندي !

دتعجب اوحیرانی خبره خوداده چي همدغه څپیړخور ژورنالـست لـومړنی سري دي چي دمتوقـع صدراعظم په وله کي یې خپل نوم ثبت کړي دي .

کیدي شي څپړ خـورژورنالست دمتوقع صدراعظم داڅپیره هـم خپل اعزازگڼلي وي وایي چي دخان یوبریخي پدي خوشاله اوویاړیده چي خان ورته خربیشوي ویلي ؤ .

دلویوخلکو کتخـل ، رټـل اووهل عیب ندي، ددرباروټو چوپړیه حقیقت کي په نورو دخانی اویاداری معنالر، . ځکه ددربار نوکر اواردلي هم له افسر نه دیرقدراوصلاحیت لري .

حال دویلولایق نه دی

یه پخوانیو حکومتونو کي به چي په دومه ولسوالي یا علاقـداري کي سپاهي کوم کلي ته جلب یووړنو دیوي وري خبري په مقابل کي بـه یې خپلي ټني په خپله وشلولي او دسپاهي دټني شلولو په معنانول پـوه وو . بیا به دسپاهي دیـوي ټني بیه دومره لوړه شوه چي دپنځوشپږوچرگانومیلمستیا اومیلي ورته هیڅ نه ښکاریدي .

خبره دژورنالست اوسرکاروه ، دلته بیاهم مثه دي دعمران خان یوي څپیړي یوه خوارېرك ژورنالـست دومره لوړکړچي دمتوقع صدراعظم دولي دلست لومړني شخصیت وگڼل شو. اوس به تودده له دغي سابقي نـه څوك ځنگه سترگي پټي کړي شي او بیا یې چي دمتوقع صدراعظم دڅپیړي ټخنبه هم پرمخ نقش وي .

کیدي شي یو وخـت دیر دارمان وگري چي کاشکي دوي هره یوه دمتوقع صدراعظم څپیره خوړلي واي .

ځکه دغه یوي څپیړي هغه گمنام ژونالست دومـره مشهـور کـړ چي دپاکستان پـه ټولو اخبارونوکي یادشو او داسي شخصیـت یې ورکـړ چي دمتوقع صدراعظم دولي دموسسینو ویاروړیه برخه شو.

گله گله یوعمل برعکس نتیجه ورکوي ، داهم ویل شوي چي دوست به دي وژړوي اودښمن بـه دي وخندوي دلته ژړا ددوستي نخښه پیژندل شوي اوس کـه متوقع صدراعظـم هغه ژورنالست په هغه یوه څپیړه ژړولي وي داپه حقیقت کي لـه هغه سره ددوستي ثبوت دي .

دسرکاریه څپیره کـسي دومره برکت شته چي یوښوت نه حملي اسمان ته پورته کړي .

له ولي خان نـه چاپوښتنه کړي وه چي ته څـنگه دهغه فـلاني مخالفانه بیانونوته ځواب نه ورکوي ، دده ځواب داؤچي : زمابدقسمتي خوداده چي دهرچاځواب مي ورکړي هغه سیاسي لیډرجوړشوي اوزه نه غـواړم چي هغه هم سیاسي لیډرشي .

ددي مطلب داشو چي دلویو خلکو بڼرد اوښکتځل هم دیوچادشخصیت په لوړولو کـي رول لرلي شـي اوحتي لیډرهم تري جوړولي شي تو څپیړه به یې څنگه برکت نلري .

عمران خان باپه بله ویناد متوقع صدراعظم دانصاف تحریك جنده پورته کړي ددغه تحریك عملي ثبـوت هغه څپیړه کیدي شي چي دیوه ژورنالست پرمخ له لگیدو وروسته یې هغـه دانصاف تحریك دموسسینو په کتارکي ودراوه اوس که څوك دسرکارپه نژدي کسانوکي ځان شمیرل غواړي هغه بایي دغسي گوزارونوته ځان چمتو کړي ، ځکه وهل ، ټکول او زندان سیاست اوسیاسي مبارزي ته دننوتلو لایسنس گڼل کیږي اوداداسي سرټیفیکت دي چي دانصاف لپاره دیرضروري دي .

صورتي همدمان دیردي په دنیاکي
ولي نه مومي رحمان همدم دژړه

طنز
پولیسی دریشی

ننگیار

کله چي ښارته ورسیدم ، نوښاررااته یوبل دول پـه نظرراغي اوهغه داچي دښارنیم خلك مي پـه عسـکري اوپولیسي یونیفارم کي ولیدل . هري خواته به مي چي کتل نو دخرو، برگو اوخط داره یونیفارم لرونکي خلك به مي لیدل .

همدغه حالت ماته ویره پیداکړه ځکه حالت مي غیرنورمال ولید، ماویل حتماً کوم اضطراري او خطرناك حالت دي چي داسي ټولـه اردو او پولیس بازارونواوکوڅوته راوتلي دي .

په همدي ویره کي روان وم چي یوتن دبرگي دریشي خاوندراته وویل : استاددي وښیه . پـه لړزیدلي غږمي ورته وویل : استادنلرم، هغه په غوسه شواوویي ویل: ولي یې نه لري ؟ ورته ومي ویل چي تذکره مي دجهاد په وخت ورکه شوي اوتنظیمي کارت ځکه نشم گرځولاي چي پـه لارو کي دمختلفو تنظیمونو مسلح کسان دي ، توچي دیوتنظیم کارت دي وروښوداوهغه دهغه تنظیم نه ؤ نو بس په غم گرفتاره شوي ، نوځکه کارت نه راسره گرځوم .

هغه نورهم په غوسه شو اوراته یې وویل : پورته شه موټرته ! اویدي ډول دده وروڅو لپاره بندي شـوم ، چي راخوشي شوم، ویره مي څوڅله نوره هم زیاته شوي وه او هغـه مي کوله چي دیر ژرځان له ښاره وباسم . دښـار په یوه واټ کي گرځندي روان وم اودسترگو له کونجونومي پولیس او دامنیـت کسان څارل اوهڅه مي کوله چي په مخه ورنشم .

مابه چي لري دبرگي، خري اویاخري خط داري دریشي اغوستونکي ولید، لاره به مي تري چپه کړه .

په همدغه کشمکش کي دم چي یودبرگي دریشي والاله شازماپه لور منډي راوهي ، زړه مي دب ،دب پیل کړ اوگامونه مي گـرندي کـړل، خو نوموړي رانږدي شو . ماویل گـیري کړم ، نوښه داده چي منډه کړم اوځان تري وژغورم که وایي چـي دهمیره یاخرپ وي یاترپ » نو ما هم هماغه دترپ خوا ونیوله .

منډه مي کړه اوداسي گرندي منډه چي شاید پـه ټول عمرکي مي داسي منډه نه وي کړي، داچي څوته مي مخي ته راغلل ومي وهل اووغورځیدل ماته یې هـم ښېرنه دي معلوم ، څوتاسویې له دي معلومه کړي چي کله دواټ وډوستي برخې ته ورسیدم ډیره زیاته گڼه گونه وه اوله دي ښي کوڼي وتل ډیرگران ؤ نویه خپل ټول زور سره مي قدمونه گرندي کـړل، پولاسي گاډی « کراچي » مخي ته راغلله ، به یوکړندي ټوپ سـر، [illegible] دري، ځلورته مي مخي تـه راغلل، ومي وهل اوغورځارشول ، او چي لـه دري نه تیریدم یوه په میوو بارکراچي مي مخي ته راغله ، داچي سرعت مي ډیرزیات شوي و، لـه کراچي نه لاره چپول له امکانه وتلي و، نوهماغه وچي دکراچي پـر سـر دمیوو پـه منځ کي وغورځیدم .

دکراچي پـه سرپرتي میوي ټولي آخوا، دیخواتوي شوي او زمایه سرهم ویني راماني شوي، کراچي وان په ډیره غوسه له گریوانه ونیولم، دکراچي لـه سره یې رابورته کړم اوراته یې وویل چي ولي پـه دومره بي احتیاطي سره منډي وهي چي هم دڅه غرق کړم اوهم دځان .

هغه دخپلو میوو پـه تیتیدو اوخرابیدو ډیرزیات پـه غوسه شوي و خوزما دسرپه ماتیدواو ویښوبهیدلویې غوسه سړه شوه اوشاید همدوغومره جزایې راته کافي گڼلي و، نویې په مهربانه ډول راته وویل : په لاره چي تلې، لږپه آرام ځـه ، داښاردي څه په دښته کي خو نه یې روان ! ..

ماچي سرتي سـه ویښوپاتي شوي اوومي غږولي کراچي وان هـم خر پولیسي یونیفارم «دریشي» اغوستي وه، دسردردمي هیرشو اوویره مي بیابه خوښیدوشوه، په عاجزانه ډول مي ورته وویل : تاسوپولیس یاست ؟!

هغه ښـه چي زماخبروخوندنه ورکاوه وویل : نـه ، نه ، پولیس چیرته یم ، نه گوري چي په کراچي سودا خرڅوم ! پـه همدي کي هغه دبرگي دریشي خاوندچي زه [illegible] راتښتیدلي وم راورسیداو دغه کراچي وان ته یې وویل : ژرکوه ، کراچي دي دواټ هغه بل سرته راوله ، ډیره زیاته گڼه گونه جوړه شوي، ژرراځه چي زه ځم کراچي مي هماغسي یواځي پریښي!!

دغونچې د رباط ور په واکیدو دی
قافله درنګ وبو دروممی سباشو

شیدا

د زړه خواله

خلکوخوبه وی چی پټ په فعل کی ضمیر وی
مافعل جفاولید څرګند ستا په ضمیر کی

علیخان

ما اوریدلی وو اولوستی می هم دی ، چی څوك د قلم په مزدوری د ګیډی ژرنده چلوی،هغه په پردی کفن کی ښخیږی . تراوسه می منله که نه ، خوهغه وخت می و منله ، چی د ښبل جهادی ادب د سنګر پریوه قلموال ملګری می دقضا غشی برابرشو، خو د پوښتنی یی دا حال و ، چی (ناکارمی شاهد دی) دعثمان غنی د میراث پرتغریوه ناست جهادی له هغه سره د مرستی په باب وفرمایل :

ووروه ! یو شهید خونه دی ، چی زه یی وپالم ، دا خویوتیم میلیون دی ، زه به د چا پوښتنی ته رسیږم ؟

زما دقلم اوښی چی نن د چاپروپر ځاځی او زماغریو چی نن د چا د بیلتانه پر لومړی تلین را ږك شوی دی، هغه هم هغه قلموال دی ، چی دځوارلس کلن جهاد په بهیر کی به یی یوه پښه په سنګر کی وه ، نوبله به یی په دفترکی وه ، خو هغه دفترنه چی سری پکی د دڅی او القابو لپاره مقرر وی ، بلکی په هغه دفترکی یو فرهنګی سنګریه و ، هغه به که په سنګر کی د خاوری او دین د ناموس ستاتنی لپاره خوب وخواره پر ځان حرام کړی وو ، نو دلته به یی د قلم او ارشاد له موَجله هم پردښمن خوځه چی پرځپلو بیلاری سنګروالواو سیاستوالو هم ډېل اوصرفه نه کوله ، د هغه د ژبی او قلم توره همغو مره تیره وه ، لکه د سره سنګر توره یی .

هغه رښتیا چی «خنجر» و خو د خاوری ، دین او ملی نوامیسو د دښمنانو پر سینه .

دهغه د سپیڅلی ارمان خنجرکه د دښمن پر سینه د پرهرکار کاوه ، نو دمینی ،خلوص او ملګرتیا ملهم او پهی هم ورسره وو .

اوهغه په تولنیزه راشه درشه کی لکه د رحمان بابا پرتله چی روان و :

په ښه خوی له بدخواهانو بی پروایم
په نرمی لکه اوبه دا ورسزایم

اروایی ښاده اوسه

د مرحوم (خنجر) په یاد

له څه مودی راهسی ورك شوی یو بشر دی
داهومره یم خپه چی زخمی می پری ځیګردی
ګرځم ښکسته پسورته محفلونه لټوم
په هر ښارکی دفترونه لټوم
چی دوستان یی چیرته وی هغه کورونه لټوم
که دلته پیدا نشو بل محضرته می سفر دی
قابض لره ورځمه یا لټون کره که وی
ناګاریه تری خبروی سباوون کره که وی
صمیم غوندی خپه اوجګرخون کره که وی
پوښتنه به تری وکړم کونړونو کی شروی
یوازی غمجن نه یم ، خپه ټول اندیوالان دی
په هر ځای کی چی ادیب اولیکوالان دی
دخوکلوهجرت کی چی د شعر فنکاران دی
د زړو دنیایی ورانه هریوزړه ترینه خبردی
نازولی زوی خواریږی په (انصار) می زړه خوږیږی
(عمران) خپه خپه دی په دی کار می زړه خوږیږی
وروکی (عبدالله) دی په دی خوارمی زړه خوږیږی
چی ډیرپسی یادومه دا د دی بچو پدردی
حرف حرف چی یی لیکمه زما اوښکی نه ودریږی
چی هرچاسره مخ شمه پوښتنی رانه کیږی
د لاری اندیوال د (رحیمی) نه معلومیږی
قلم څوکه می ماته ده ورك کړی می (خنجر)دی

محمد کریم «رحیمی »

دګل جنازه

ماجمل یوسفزی

ژړا به دښتو ځانګو په لوو کوو
ساندی به دګل په جنازو کوو
خیژی چی له شنو پاڼو نه شین لوګی
چغی به په دود دچیناروکوو
خونه دمطرب غریب میراته شوه
شرنګ به دپیغلوتویه پاولو کوو
رنګ شیبوراکړی خونړی شفق
لیك دځوانیمرګو پرخازوکوو
جبر دبلبل مری زیرلی ده
ویر به د بیوزلو ،په سلګو کوو
اوښکی دغوټیو چی بهاندی شی
موږ به یی نثراتی په جرګو کوو
داناخرالی زغمو بیا قلم راخلو
پیل به دحمزه په انتګو کوو

چلوونکی: محمدآصف (صمیم)

د ادب وږمې

تیری لسیزی زموږ تخلیقی ادب ته ګته رسولی ده

دوهمه برخه

د ښنګی پرغاره ناول موخه وخت پیل کر ؟ څومره وخت مو کاروربااندی وکر؟ آیا د هغه فصلونه مو وروسته وراندی لیکلي وو او کسه په اوسنی ترتیب ؟

د ښنګی پرغاره ناول می په کال ۱۹۸۵ کی پیل کر او دغه ګنی یی چی خپری شوی دي هغه می په دوو کالونو کی لیکلی .دا یو عجیب ژانردی هره کیسه په خپله په ځان بسیاده او چی بیا ټولي سره یوځای شي نو یو ناولګی تری جوړیدلی شي . د هغو ترتیب همدا دی چی اوس یی تولی او کرونو لوژیك وحدت لري ما نا چي په هماغه ترتیب چی چاپ شوی پیښ شوی هم دي.

د ښنګی پرغاره ناول د لوستونکو دیرزیات خوښ شوی دی او زه داسی ګسان پیژنم چی په ټول عمر کی یی یو ادبی اثر نه دی لوستی خو ددی ناول چاپ شوی برخی یی خو ځلی لوستی دي . آیا تاسو بل ناول هم لیکلی دی اویا یی د لیکلو نیت لری ؟

زما دا ته نه وه چي د ښنګی برغاره کیسه لکه چی تاسو وایی دخلکو خوښه شوي ده ، زه یوځه ویریدم چی خلك به په کیسه کی افلاطوني اتلواله او خارقه غواری اوګوری به چی ما هسی عادی ژوندی ګری اوترکان را اخیستی او دوچی می اتلان تری جوړکری دي . زما د کیسی لوی هونبیار څوك دی ؟ دم سخیدادماما. پیامی ویل چی زه خو د چانه حق الزحمه نه پری اخلم که چاولوست لوستی به یی وي او په همدی توکل (حسبت الله ګفته ما کشتي در آب انداختیم) ورورسته بیا معلومه شوه چی خلکوخو داسی کیسی ځکه نه لوستی چی دوی خپله لیکلی نه شوی او لیکوال تری لار چپوله .

تاسو پردي آثار هم راژبارلي دی په تیره د همینګوي. د یو آثارو ژباره د کیسی د فن زده کری ته څومره ګټه لري ؟

هوما یو څه پردی کیسی هم ژباړلی دي . یو څه نظمونه می هم په پښتو اړولي . خو تر اوسه پوري می د هغو په برخه کی نه ښه اوریدلی او نه بد .

موږ تر لویی غمیزی پخوادیری مجلی او ورځپاڼی لرلی چی ګڼ شمیر خپلی او پردی کیسی هم په کی خپریدی خو دکیسو له فن سره بلدتیا دومره وه چسی د(کابل)مجلی په خبراکادمیکه او ادبي خپرونه کی هم د اوسنی کیسی او پخواتی فولکلوریك نکل خاص توپیرنه کسیده ددی شی علت څه و ؟

